مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شهسوارسنګروال ۲۰۲۶/۱۱/۰۳

د غور اصلي اوسپدونکي،

(ترکان، پښتانه که تاجکان)

۷برخه

افغانان له غور نه تردیلي

دمخه مو ووېل، چې سلطان شهاب الدین محمد غوري، هغه شپېه په طوس کې وو چې د غور سلطان غیاث الدین محمد ومړ.
دی په دې هڅه کې وو، چې د خوارزم پر وړاندې ځان برید ته چمتو کړي ، خو له بده مرغه کله چې د ورور له مرګ نه خبر شو ډېر زر هرات ته راغی، چې هرات کې د جنازې مراسم ادا کړي.
د سلطان د جنازې مراسم یې چې له پاچاهي دود سره سم سرته ورسول، معز الدین محمد وروسته غور ته لاړ او هلته د سلطنت په تخت کیناست.
غوري سلطا ن معزا لدین محمد (شهاب الدین) د خپل واک او ځواک د پراختیا او پرمختیا لپاره ډېره پاملرنه د هند پلوته وه، نو ځکه خو د هېواد شمال او شمال لوېدیځې سیمې خپلوانو او یو شمېر سیمه ییزو واکمنو ته وسپارلې.
د بست، فراه او اسفزار سیمې یې خپل وراره د سلطان غیاث الدین زوي، محمود ته چې یو بېباکه عیاش انسان وو وسپارلې . د فیروز کوه شاوخوا سیمې د سلطان غیاث الدین زوم، چې د تره زوي یې هم کېده ملک زین الدین ته پرېښودې.
همدارنګه له هرات نه تر نیشاپوره پورې شاوخوا د ټولو سیمو واک یې خپل خورایي (د خور زوي) نصیر الدین الپ غازي ته وسپاره.
محمد خرنک یې د مروې او د مروې د شاوخوا سیمو حکمران وټاکه او همداراز د غوري ټولواکمنۍ نوري سیمې یو شمېر سیمه ییزو واکمنو ته وسپارلې ،چې له یوې خوا د یوه با ثباته مرکزي حکومت ټینګښت ته غاړه کېږدي او له بلې خوا په ټاکلي وخت د خپلې حکمرانۍ مالیه مرکزي حکومت غور ته وسپاري.
له یو شمېر ټاکنو او سپارښتنو وروسته سلطان محمد غوري بیا غزني ته لاړ ، سره د دې چې د غوري ټولواکمنۍ مرکزاوپلازمېنه فیروز کوه وه.
هغه وخت چې دواړه ورونه سلطان غیاث الدین محمد او معز الدین محمد (شهاب الدین) په دې بریالي شول، چې په ۱۱۷۳ ز کال غزني ونیسي، د سراولف کارو په اند: «غزني یې خپل مشر ورور» محمد غوري «ته جاګیر ورکړ او پخپله غور کې پاتې شو.» طبقات ناصري هم دا مني او ددې خبرې پخلی کوي چې د سلطان شهاب الدین غوري واک له ۱۱۷۳ ز کال پیلېږي، یانی هغه مهال چې یې غزني له غزانو څخه لاندې کړ او هغوئ شمال ته وتښتېدل، نو سلطان غیاث الدین غزني خپل ورور معزالدین محمد سام ته د سلطان د لقب سره یو ځای ورپرېښود او پخپله، پلازمیني فیروز کوه ته راستون شو.» شهاب الدین محمد سره د هغې چې له خپل ورور سره په اړیکه کې وو، په ډېرې چټکی یې له غزني پرته ګردیز هم ونیوه او بیا یې د هند په لور پرمختګ ته لاره اواره کړه.
د شهاب الدین محمد د واک یوه ترخه شپېه هغه وه، چې د خوارزمشاهانو له خوا د مروې نامتو حکمران محمد خرنک ووژل شو او د هغه سر یې خوارزم ته واستوو.
له دې پېښې وروسته سلطان علاوالدین محمد په کال (۶۰۰ هـ ق ۱۲۰۳ ز) په هرات برید وکړ. خرنګه چې د هرات والي ناصر الدین الپ غازی، چې په ځان کې د دفاع وس او مټره نه درلوده نو د سولې وړاندیز یې وکړ او ژمنه یې وکړه چې ده له غوري سلطان معزالدین محمد نه دا سلا او مشوره تر لاسه کړي ده چې د سولې ټرون لاسلیک کړي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ده په دی هم ټینګار وکړ، چې غوریان به په خراسان بریدونه کړي. سره د هغې چې دواړو لورو ومنله، ګڼې په یو بل به برید نه کوي، خو کله چې د علاوالدین محمد ځواکونه له هرات نه بادغیس ته راغلل، هغه ښار یې لوټ کړ او څو ورځې وروسته الپ غازي هم ساه ورکړه .
شهاب الدین محمد لا دمخه دغه پلان درلود چې د خوارزمشاهانو ګوابښ کابو کړي او دا ځکه چې د هغو زیاتیدونکی ځواک غوري ټولواکمنی ته یو ستر ګوابښ ګڼل کیده.
شهاب الدین محمد غوري له یو ستر ځواک سره د خوارزمشاهانو په لور حرکت وکړ او سلطان علاوالدین محمد هم په خلکو غږ وکړ او له «قراختایانو» او «قراخانیانو» نه د مرستې غوښتنه وکړه، کله چې معز الدین محمد خبر شو چې عثمان خان قراخاني، چې د سمرقند حکمران وو له خوارزم نه ملاتړ وکړ، لومړی یې په ده برید وکړ.
خو د سلطان شهاب الدین محمد سام جنګیالیو ماته وخوړه. د جویني، ابن اثیر او جوزجاني د څرګندونو پر بنسټ (۶۰۱ هـ ق د صفر لومړۍ نېټه) نړدي وو چې سلطان له عثمان خان سره یرغمل شي، خو د یو څه وسلو او پیسو په ورکړې ځان وژغوره، ولې د پنځوس زره په شاوخوا کې پوځ یې پوپنا شو.» هغه وخت چې غوري معزالدین د اندخوی له کلابندۍ وژغورل شو نیغ په نیغه غزني ته وخوځېد.
که څه هم ابن اثیر په دې اند دی، چې سلطان معز الدین محمد سام له اووه (۷) تنو سره لومړی تالقانو ته لاړ او د هغه ځای والي حسین بن خرمیل د ضرورت وړ توکي ورکړل او بیا غزني ته لاړ.
هغه وخت چې د سلطان له ماتې نه «الدوز» خبر شو، په غزني کې پاڅون وکړ، ولې د شهاب الدین غوري له خوا ونیول شو، خو د غزني د مشرانو په سپارښتنه ورته ښښنه وشوه.
دده له حکمرانانو یو تن «ایبک بالتر» وو چې ملتان ته وتښتېد او هلته یې خلکو ته ووېل، چې سلطان وژل شویدی.
خو د «همداني» د خبرو له مخې «هغه تن د غوري شهاب الدین محمد سام د پلویانو له خوا (۶۰۱ هـ ق) ووژل شو.» سره د دې چې شهاب الدین محمد غوري د خوارزمشاهانو له خوا سخته ماته خوړلې وه ولې بیا هم سلطان علاوالدین سره دا وېره وه چې ښایي غوریان له خراسانه لاس په سر نشي.
که څه هم ده جګړه ګټلې وه، ولې بیا هم په دې پوهېده چې معز الدین له خراسان نه لاس نه اخلي،نو د سلطان دربار ته یې د سولې په موخه یو استازی واستوه، چې د هغه نیت ځانته څرګند کړي.
د جویني او میر خواند له څرګندونو ښکاري، چې د غور سلطان اړوو، چې دهغه د سولې وړاندیز ته غاړه کېږدي او دې پایلې ته ورسېدل، چې بلخ او هرات د غوریانو د واک په جغرافیه کې پاتې شي، مرو او نیشاپور باید د خوارزمشاهانو پورې اړه پیدا کړي، ولې سره د هغې هم د بلخ والي تاج الدین زنګي، جنګیالي جګړې ته چمتو کړل او د دوه میاشتو په موده کې په مرو برید وکړ او والي یې وواژه.
خوارزمشاه سلطان علاوالدین هم، د بدر الدین چغر او د تاج الدین علي په مشرۍ یو لښکر مروې ته واستو او د والی د غچ او کسات په موخه یې لس تنه په دار وځړول.
سلطان شهاب الدین محمد سام د «غزا» تر نامه لاندې یو ستر لښکر راټول کړ، چې د خراسان د نیولو لپاره د خوارزمشاهانو پر وړاندې وخوځېږي، خو د یوې ناڅاپي پریکړې له مخې، لومړی غوره وګڼله چې هند ته مخه کړي او بیا د خراسان پر وړاندې جنګیالي دېته چمتو کړي، چې دخوارزم سلطان علاوالدین د پرمختګ مخه ډب کړي.

سلطان شهاب الدین محمد د هند په لور

د سراولف کارو د وینا له مخې: «محمد غوري د سترو ځواکونو ،اردوګانو اوفرقوموسس ګڼلی شو، چې زیاتره یې له پښتنو او غلجیو khalaj څخه جوړې شوې وې او پر ۱۱۷۸ ز له اباسین څخه تېر شول او ملتان ته نړدې یې د «اوچ uchh سیمه خپله کړه.» له لومړي سره له خراسانه سربیره غوري معز الدین محمد هند ته ډېره پاملرنه درلوده، چې څو لاملونه یې د پام وړ ګڼلی شو.
لومړي خو دا چې سلطان شهاب الدین، د سلطان محمود د کورنۍ د هغو واکمنو په لټه کې وو، چې په لاهور کې ځای پر ځای شوي وو. نو ځکه خو خسرو ملک په لاهور کې ونیول شو.
دویم دا چې غوریانو د غزنویانو په ځېر غوښتل چې هلته خپل واک او ځواک پیاوړي کړي.
دریمه دا چې د اسلام د سپېڅلي دین د ټینګښت او د خپریدو لپاره غوري شهاب الدین د غزنوي واکمنو په پرتله جدی وو.
څلورمه دا چې په افسانوي توګه هند د سرو زرو مرغۍ په نوم نامتو وو، نو ځکه هر واکمن د خپل واک د پراختیا او پرمختیا له پاره د هند له شتو ګټه اخسته.
شهاب الدین محمد سام، چې به کله د هند هره سیمه لاندې کړه نو هلته به یې د یوه جومات د ابادۍ ډېره کېښوده او ده لومړی برید په ۵۷۱ هـ ق په ملتان وکړ او ډېرې سیمې له «قرامطه» نه لاندې کړې.
که څه هم په پټانز کې راغلي دي، چې «محمد غوري (۱۱۸۶ ز کال) د ډیلي له نیولو نه دمخه (۱۹۷ مخ) لاهور لاندې کړ او د بهرام شاه زوی خسرو د غزنویانو وروستی واکمن یې ونیو او بیا یې د هند نیولو ته لاره اواره کړه.» ولې د تاریخ فرشته لیکوال بیا په دې اند دی، چې «غوري معزالدین محمد لومړی برید په ۵۷۱ ق کال، چې ۱۱۷۵

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ز کال سره برابر دی په هند وکړ، چې مولتان او «اوچه» يې له قرامطه څخه ونيو.» جوزجاني هم د دې خبرې پخلی کړيدی، چې د دوه کالو په موده کې، يانی په «۵۷۳ ق» کال د مولتان له لارې د ګجرات په نهر واله برید وکړ، خو ماته يې وخوړه او بيرته غزنې ته ستون شو.» سلطان شهاب الدين په ۵۸۰ ه ق بيا په لاهور برید وکړ او په ۵۸۲ ه ق کال د ده دريم يرغل وو چې لاهور يې په بشپړه توګه ونيو او علی کرماج يې د ملتان والي وټاکه.
ابن اثير په دې خبرې ټينګار کړيدی، چې «غوري شهاب الدين د ۵۸۳ ق کال په پای کې پر هند وروخوت، اجمير يې لاندې کړ. ولې د لارې په دوارو غاړو کې هندې جنګياليو پرې خونړي بريدونه وکړل، ان دا چې سلطان زخمي شو او بيرته غزنې ته راغی.» د غور سلطان په ډېر چټکی د ځلورو کالو په موده کې د پوځ او د يوه ستر لښکر جوړولو او راټولو کار بشپړ کړ او يو شمېر تاريخپوهانو د دې خبرې پخلی کړيدی، چې شمېر يې يو سلو شل (۱۲۰۰۰۰) زرو جنګياليو ته رسېده او بيا يې په ۵۸۸ ق کال هند ته مخه کړه.
په همدې برید کې د اجمير او ډيلي واليان ووژل شول او بيا سلطان، په نوې ډيلي کې د اوسنې لودی ګارډن په لويديځ او د شير شاه سوري د کلا مخامخ، چې اوس يې هم نښې نښانې له ورايه ښکاري د يوه لوړې جومات بنسټ کېښود.» جوزجاني، ابن اثير، هندو شاه او جواهر لال نهرو په بيلابيلو څرګندونو کې ډاګيزه کړيده، چې د سلطان شهاب الدين غوري قومندانانو او په دغه لړ کې دده نامتو غلام، چې خپل زوی باله قطب الدين ايبک يادولی شو په ۵۸۹ ق د ډيلي شاوخوا سيمې ولکه کړې او ډېر غنايم يې تر ګوتو کړل.
غوري سلطان په ۵۹۰ ق کال قنوج او د بنارس ښارونه ونيول او د دري (۳۰۰) سوه په شاوخوا کې فيلان يې غنيمت کړل او د تاريخ فرشته په قول معز الدين محمد د بنارس زر (۱۰۰۰) بتکدې د مسلمانانو لپاره په مېشت ځايونو بدلې کړې او کوم غنايم چې يې برمته کړل د ابن اثير په قول نوي فيلان (۹۰) او يو زرو څلور سوه (۱۴۰۰) اوښان يې پرې بار کړل.
کومې سيمې چې سلطان شهاب الدين محمد د څو کالو په موده کې لاندې کړې، د جوزجاني د وينا له مخې: کالنجر، کالپي، بهار، مالوه، کاليور، لکنهو، تراين، بنداري، لاهور، سنقر قان، مولتان، اوچه، سيالکوټ، تبر هنده، اجمير، هانسي، سرستي، کهرام، ميرت، ډيلي، کول، بنارس، تهنکر، نهروواله، بدوان، سوالک» او د شمالی هند (ليکوال سنګروال دغه سيمې له نړدې وليدې) يو شمېر نورې سيمې يادولی شو.
ولې ددی څرګندونو مانا دا هم نه ده لکه څرنګه چې يو شمېر تاريخپوهانو يې يادونه کړېده، چې ګنې په هر برید کې به غوري سلطان بريالی وو. نا په ځنو يرغلونو کې ماته هم خوړلې ده. د ساري په توګه په ۵۸۶ ق کال (۱۱۹۰ ز) چې يې کوم يرغل وکړ د «نارين narain» په ډګر کې، کرنال karnal» ته نړدې چې ښايي له ډيلي نه د «۷۰» ميله په فاصله شمال ته پروت وي، د «راي پيتورا» raipithora چې په «پريتوي راج» prithwi raj» نامتو وو، د کيرواولف په اند «افغانانو او خلجيانو» ته يې نه يوازې سخته ماته ورکړه بلکې محمد غوري هم زخمي شو.
سلطان د غج او کسات اخستو لپاره بل وار، چې کله جګړه پېښه شوه دا دومره خونړی وه، چې پخپله «پريتوي راج» راوپرځېد او په دې سره د هندوانو ويار او دب دبه هم پرځمکه وولېده.
دغه جګړه دومره ټاکوونکي وه، چې کله هم هندوانو د رنجيت سنګ تر مهاله سر راپورته نکړ، چې بيا د «پريتوی راج» په څېر آتل د هند په شمال کې وزيږوي.
جواهر لال نهرو هم د دې خبرې پخلی داسې کړيدی: «هندوان پخپلو زړو عدتونو کې ښکېل وو، د جګړې لپاره يې نوی لارې نه لټولې او د افغانانو غوندی مجهز نه وو او نه يې د جګړې ښه مديريت درلود. وروسته پاتې هندوانو، که څه هم سر ښندنه وکړه، ولې بيا هم افغانانو ګونډه کړل.»

د غوري محمد د برید څو بېلګې

دمخه مو ووېل د سلطان معزالدين محمد سام بريدونو يادونه وکړه، چې د هند د نيولو تکل يې وکړاولومړی همدا چې غوري شهاب الدين نه يوازې د خپل ورور غياث الدين محمد ټولواکمنۍ وژغورله ، بلکې د هند لور ته يې د خپل واک د پراختيا لپاره هاندې هڅې وکړې چې څو بېلګې په دې توګه دي :
۱ـ غوري سلطان چې په ۱۱۹۲ ز کال د هند نېمې وچې ته ورسېد او کله چې بيا لاهور ونيو، قطب الدين ايبک يې د هغه ځای حکمران وټاکه.
بل ځل يې بيا په ۱۱۹۳ پر هند برید وکړ، دا ځل يې د راجپوتان واکمنۍ ړنګه کړه، ډيلي او اجمير يې لاندې کړ.
۲ـ قطب الدين ايبک د خپل سلطان په سپارښتنه لومړی په هند کې د يوه منظم قانون د جوړېدو هڅه وکړه ،بيا يې د يوه تاريخي څلي بنسټ هم کېښود، چې اوس د قطب الدين ايبک منار پنوم نامتو دی.
د سلطان دغه حکمران د خپل پاچا په سپارښتنه د ځلي په انګړ کې د يوه جومات د جوړولو بنسټ هم کېښود.
۳ـ سلطان محمد سام يو ځل بيا هند ته لاړ او د قنوج راجا «جې چند» ته يې ماته ورکړه او قطب الدين ايبک يې ګجرات، ګواليار او بيا نه ته واستوو.
۴ـ د سلطان شهاب الدين محمد يو بل نامتو حکمران بختيار خلجی وو او دی يې ببيار او بنګال پلو ته واستوواود همدې فتوحاتو پايله وه، چې غوري شهاب الدين محمد د يوه اسلامي حکومت بنسټ ته لاره پرانسته.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

مفتي محمد پالن پوري، پخپل مشهور کتاب «د هند په تاريخ کې» ليکلی دي «د هندوستان د اسلامي سلطنت باني شهاب الدين محمد غوري دی.»
۵- غوري سلطان په ۶۰۲ هـ (۱۲۰۶ ز) کال بيا هند ته وخوځېد او د کوکران يا لهکران بغاوت ته يې د پاې ټکی کېښود. په تاريخ فرشته کې دېته ګوته نيول شوې، چې د پنجاب مسلمانان د هندوانو تر ګواښ لاندې وو او د کوکران او «کوه جودي» حکمران له هغو پېښو ګټه واخسته، چې شهاب الدين محمد ګڼي په اندخوی کې د «قراختيايانو» له خوا ماته وخوړه، نو دوئ د لاهور لاره بنده کړه.
۶- سلطان د ډيلي والي قطب الدين ايبک ته سپارښتنه وکړه، چې کوکران غاړه ايښودو ته اړ کړي، خو ځرنګه چې کوکران جګړه ييز ارزښت زيات وو محمد غوري د لنډ مهاله لپاره له قراختيايانو سره جګړه ودرولە او مخ په کوکهران رهي شو.
ده او ايبک په ګډه داسي ماته ورکړه، چې ډېر غنايم يې ترلاسه کړل. د دوئ په ځپلو کې خلجي تاج الدين يلدوز هم ونډه واخسته.
۷- د کوکران له ماتې وروسته سلطان د قراختيايانو د ځپلو لپاره هوډ وکړ، خو کله چې سلطان مخ په غزني راوخوځېد. د جيلم د سين په غاړه د يوه اسماعيلی فدايي له لاسه په۱۲۰۶کال د مارچ په ۱۵ مه ووژل شو. (۶۰۲ هـ ق د شعبان درېيمه) داسي انګېرنی هم شته چې د کوکران يو شمېر کسانو د کسات او غچ اخيستو لپاره د هغه په خيمه برید وکړ او له مينځه يې يووړ.
يو شمېر څېړونکي بيا په دې اند دي، چې سلطان د «ملاحده» له لاسه په «ميک» نومې ځای کې په يادي نښتې ووژل شو.
غوري سلطان شهاب الدين محمد سام د خپل ورور د واک په مهال ۲۹ کاله چې د اوړي پلاز يې غزنی و، د مستقل والی په توګه او د غياث الدين محمد له مرګه وروسته دری کاله نور يې په خپلواکه توګه په ټول هېواد حکومت وکړ، چې ژمنۍ پلازمينه يې په لاهور کې وه.
دده نامتو وزيران، قاضيان او درباريان، ضيا الملک درمشی، مويدالملک محمد عبدالله سنجري، شمس الملک عبد الجبار ګيلاني، قاضي ممالک صدر شهيد نظام الدين ابو بکر وروسته صدر سيد شرف الدين ابو بکر بن صدرالشهيد نظام الدين، شمس الدين بلخي له هغه وروسته زوی يې هماغه دنده په غاړه درلوده.
۸- د غوريانو په دربار کې ګڼو عالمانو د پښتو ژبې او پارسي ژبې شاعرانو او ليکوالو شتون درلود د غور و ګړو تر ډېره بريده په هغه وخت کې په پښتو ژبه خبرې کولې او کله چې غوري پاچايانو او درباريانو هند ته مخه کړه د دواړو ژبو شاعران ورسره مل وو، چې په دوئ کې د يو شمېر نومونو نوملړ داسي دی: امام فخر الدين رازي، نظامي سمرقندي ، شيخ اسعد سوري، شيخ تيمن بريځ، ملکيار غرشين، بنکارندوي ،علی باخرزي، قاضي منهاج السراج، معزالدين هروي، مولانا سراج الدين، قطب الدين بختيار او نور د ساري په توګه يادولی شو ، چې يو شمېر د دوی د غياث الدين او شهاب الدين د دربار شاعران وو.

له غوري محمد سام وروسته

«د ملتان له غوري ټبر، لوديانو نه نيولې تر غزنويانو او بيا تر راوروسته پيرونو پورې، کله به چې يو واکمن ومړ، نو زوی او يا ورور به يې د هېواد چارې پرمخ وړلی، ولې د غوري شهاب الدين محمد له مرګه وروسته بيا داسي ونه شول.» غوري معزالدين محمد سام يوازې يوه لور درلوده او کله به چې درباريانو ورته د بلې ميرمنې لپاره د خپلې خواخوږۍ ځرګندونه کوله، نو سلطان به ورته وويل:
زما هر غلام زما زوی دی او ما دوئ په ډېر مينه روزلي دي، چې رښتيا هم مور قطب الدين ايبک، بختيار خلجی ، شمس الدين التمش او ناصر الدين قباچه د بېلګې په توګه يادولی شو.
ولې سره د هغې هم له سلطان شهاب الدين محمد وروسته وراره يې دده ځای ناستی وټاکل شو.
محمود بن غياث الدين محمد په ۱۲۰۶ ز کال د کاکا پر ځای د غور د سترې ټولواکمنۍ پر تخت کيناست.
ده ته د خپل پلار او اکا يوه ستره خزانه په ميراث پاتې وه، چې مور د ساري په توګه اته سوه (۸۰۰) له سرو زرو ډک صندقونه، قيمتی مری، سپين زر، قيمتي لوخي، غوري، صراحي، شمه دانونه، وريښميني جامې، چيني او نور لاسي توکی د يادولو وړ دي ، خو دی يو عياش او بېکاره انسان وو او ټول شته يې له خپلې عياشۍ او بېباکۍ قربان کړل.
غوري سلطان شهاب الدين چې غوښتل يې د غوري ټولواکمنۍ د واک او ځواک لمن د هندوستان، خراسان او ترکستان لور ته پراخه کړي، خو دده يو ناڅاپي مرګ دا هر څه په اوبو لاهو کړل.
کله چې دی په غزني کې خاورو ته وسپارل شو، هلته په هند کې دده د دربار غلامان واک ته ورسېدل، خو د واک داسي تشه چې په افغانستان کې رامينځته شوه، په هند کې احساس نه شوه.
قطب الدين ايبک، ورپسي شمس الدين التمش او لور يې راضيه سلطان، غياث الدين بلبن، کيقباد او وروسته د پنجاب والي فيروز خان د جلال الدين خلجي په لقب (چې غور نيکه يې د «پشت رود» د بارکزو د ناوې خلج نومې سيمې اصلي اوسيدونکي وو) د ډيلي په تخت ډډه ووهله.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په افغانستان کې لومړنۍ ستونزه هغه مهال پیدا شوه، چې د سلطان غیاث الدین نه وروسته زوی یې محمود غوښتل، چې پاچا شي ، خو دده کاکا یاني تره غوري معزالدین محمد ته دده وړتیا څرګنده وه، نو ځکه یې ده ته نور ددې وخت ورنکړ، چې د غور ټوله واکمنۍ ته زیان ورسوي، نو یوازې د بست، فراه او اسفزار سیمو والي وټاکه.
خو د سلطان شهاب الدین له وژلو وروسته محمود له بست نه فیروز کوه ته لاړ او د فیروز کوه په تخت کیناست او ده ته چې خپله زده کړه او مترې معلومه وه نو ځان یې د غیاث الدین محمود پنوم ونومواه .
فیروز کوه ته دده راتګ، د فیروز کوه والي ملک علاوالدین محمد دېته اړ کړ، چې غرستان ته لاړ شي. که څه هم د فیروز کوه وګړي له ده نه ځکه ډېر خوشحاله نه وو، چې هغوئ شافعي مذهبه وه او علاوالدین محمد بن ابو علي «کرامي مذهب» ته ژمن وو.
محمود بن غیاث الدین، ملک علاوالدین زندان ته واچوه، او نه یوازې غرستان یې ونیو، بلکې تر تالقانو یې پورې پرمختګ وکړ، ګرزوان، بلاد قادس او ګرمسیر یې هم یو د بل پسې لاندې کړل، خو د محمد غوري له وژنې وروسته هغه ستر هېواد چې پراختیا یې د خزر له کڼونونه نیولې تر جمنا، له جیحونه راواخله د هرمز تر روده، همغسې تر بلوچستانه پورې رسیده دا ټوله ارته او پراخه ځمکه چې د غور د فیروز کوه تر بیرغ لاندې وه، ټوټې ټوټې شوه .
د هېواد ختیځه سیمه له غزني نه تر سنده پورې تاج الدین یلدوز لاندې کړه او د محمود له امره یې سر غړونه وکړه ، ولې دده زوم د لوي هندوستان والی قطب الدین ایبک بیا د هغه تابیعت یانی محمود ته غاړه کېښوده.
یلدوز یوه لور قطب الدین ایبک او یوه بله لور یې د سندوالي ناصر الدین قباچه ته ورکړې وه. خو قطب الدین ایبک له لاهوره د یلدوز پر وړاندې د غزني لور ته ځواکونه وخوځول او سند کې هغه ته ماته ورکړه، څلویښت ورځې په غزني کې پاتې او بیا بېرته هند ته وګرځېد، خو غزني بیا هم د تاج الدین یلدوز ولکې ته پریووت.
«د محمود د سلطنت په دویم کال ملک رکن الدین بن ملک علاوالدین محمد په فیروز کوه برید وکړ، خو ماته یې وخوړه. د سلطنت په دریم کال بیا د سلطان غیاث الدین د تره زوی «علاوالدین اتسز حسین» د تاج و تخت د نیولو لپاره له بامیان نه خوارزم ته لاړ او له سلطان محمد خوارزمشاه نه یې مرسته وغوښته او په فیروز کوه یې یرغل وکړ، خو خلکو له خپلې پلازمینې دفاع وکړه.» رکن الدین له ماتې وروسته بیرته غزني ته ستون شو او بیا ګرمسیر ته چې د سلطان د ځواکونو له خوا ونیول شو او په فیروز کوه کې بند ته ټیل وهل شو دی لا په زندان کې وو او د جوزجاني په اند: «په ۶۰۷ ق کال سلطان د ترکي سر تیرو له خوا ووژل شو.» د یادو څرګندونو سره سره بیا هم داسې ویلی شو، چې د سلطان غیاث الدین محمود او سلطان علاوالدین خوارزمشاه تر مینځ اړیکي دوستانه وې او د هغه تابیعت یې منلی وو. د دوئ تر مینځ اړیکي هغه مهال ټینګې شوې، چې خوارزمشاه ۶۰۳ ق کال په جمادی الاول، د «علامه کرمان» په نوم یو استازی له هرات نه د هغه دربار ته د دوستۍ په موخه واستوو او غیاث الدین محمود هم خپل یو استازی له یو شمېر ډالیو او سوغاتونو سره، چې یو هم سپین فیل وو هغه ته ولېږه او نه یوازې د هغه تابیعت ته یې غاړه کېښوده بلکې خطبه یې هم د هغه په نوم کړه.
«جویني» کښلي دي، هغه مهال چې علاوالدین خوارزمشاه هرات ونیو او عزالدین حسین خرمیل یې ووژه، ښایي بیا به نه غوښته د همدې لامل له مخې په فیروز کوه یرغل وکړي.» ولې هغه همدارنګه په ۶۰۳ کال تالقان ونیو او د غیاث الدین محمود والي «سونج امیر شکار» یې ټېښتې ته اړ کړ.
همدا ډول خوارزمشاه له تالقانو پرته یوه بل موهم ځایته هم سترګې نیولې وې، چې هغه غزني وه او د غزني د پلازمېنې دب دبه یې نه یوازې افغانستان کې دننه د پام وړ وه بلکې سیمه ورته هم ګوته په خوله وه.
سلطان علاوالدین په دې پوهېدلی وو، چې غیاث الدین محمود نور د ټینګې نه دی، نو وړاندیز یې وکړ، چې د ستر سیال او رقیب تاج الدین یلدوز د غزني ځواکمن والي وځپي نو بیا یې خپل استازی ورواستوو چې د زوم او خسر اړیکه ورسره جوړه کړي او هم یې ورته وویل، د غزني خزانه به په درې برخو ووېشي، یوه برخه د تاسو، یوه برخه زما او درېیمه برخه به د پوځ جنګیالیو ته ورکړي.
دا د سلطان غیاث الدین محمود هر اړخیزه کمزوري وه، ولې بیا هم هغه مجبور وو، چې د سلطان علاوالدین خوارزمشاه هر وړاندیز په پټو سترګو ومني.
هغه وخت چې سلطان علاوالدین خوارزمشاه په ترکستان او ماوراالنهر کې په جګړه بوخت وو، د ده ورور، د اصفهان والی علیشاه د یو شمېر اختلافونو له امله، د دې لپاره، چې د غور واکمن د غوري شهاب الدین په ځېر یو ځواکمن سلطان وي، د غوري محمود دربار ته پناه یووړه.
محمود لومړی هغه ته هرکلی ووایه او وروسته سلطان علاوالدین ورته ووېل، د خوارزم دوست باید د تاسو دوست وي او دښمن یې ستاسو دوښمن،نو علیشاه زما دوښمن دی.
د غیاث الدین محمود د کمزورۍ یوه بله لویه نښه همدا وه، چې لومړی یې د علیشاه دروند او تود هرکلی وکړ او بیا یې زندان ته ټیل واهه چې په دی سره د هغه د پلویانو غوسه راوپاریده، په پای کې ووژل شواو د محمود مړی بیا خپلې کورنۍ، هرات ته واستوو او له سره بیا خاورو ته وسپارل شو

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ